په جنت کې يوه دروازه ده چې ريان بلل کېږي، د قيامت په ورځ به ترې يوازې روژتيان ننوځي، او له دوی پرته به ترې نور خلک نه ننوځي

له سهل رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په جنت کې يوه دروازه ده چې ريان بلل کېږي، د قيامت په ورځ به ترې يوازې روژتيان ننوځي، او له دوی پرته به ترې نور خلک نه ننوځي وبه ويل شي: روژتيان چېرته دي، نو دوی به پاڅېږي او له دوی پرته به ترې بل څوک نه ننوځي، نو کله چې دوی ورننوځي بنده به شي، نو هېڅوک به ترې داخل نه شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې په جنت کې يوه دروازه ده چې ريان بلل کېږي او د قيامت په ورځ به ترې يوازې روژتيان ننوځي او له دوی پرته به بل څوک نه ننوځي، غږ به وشي چې روژتيان چېرته دي، نو دوی به پاڅېږي او له دوی پرته به بل څوک ترې داخل نه شي، نو کله چې د دوی وروستی تن ورننوځي بنده به شي، نو وروسته به ترې هېڅوک داخل نه شي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3738